

قرآني بيان
ازادي
يو نِعمت دے
د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه)
او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)
د انتظام د لاندي جوماتونو د پاره
په 14 اګست، کال 2026ء
(بمطابق: 30 صفر شريف، کال 1448ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَنِي مرکزونو (فیضانِ مدینہ) او د شعبہ اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 14 اګست، کال 2026ء (بمطابق: 30 صفر شریف، کال 1448ھ) د جُـمعَۃُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

ازادي يو نِعمت دے

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د بني اِسرائيلو د غلامۍ او ازادۍ واقعه
- پاکستان او د ازادۍ تحريک
- مونږ او د ازادۍ جِشن
- د ازادۍ جِشن څنګه نمانځل پکار دي ؟

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنّت اعتكاف نِيّت اوكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

صحابيِ رسول حضرت ابو طلحه اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: چې د يو ځل واقعه ده د سحر په وخت کښې د الله پاک د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ باندې د خوشحالیِ نخښې وې، صحابهٔ کرامو عَلَیہِمُ الرِّضوَان د دې د وجهې پوښتنه اوکړه نو وه يې فرمائيل: الله پاک پېغام رالېږلے دے چې اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو کوم اُمتي چې په تاسو باندې يو ځل دُرُود ولولي، زهٔ به د هغهٔ د پاره 10 نېکیِ لیکم، د هغهٔ 10 ګناهونه به ورانووم او 10 درجې به ورله اوچتووم- [1]

اُن پر دُرود جن کو کَسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے [2]

وضاحت: هغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم ته چې د بے وَسو

---

[1]... مسند امام اَحمد، مسند المدنيين، حديث ابو طلحة زيد بن سهل... الخ، جلد:6، صفحه:625، حديث:16795۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:209۔

اَسره وئيلے شي ، کوم چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، پۂ هغوئي دې دُرود او سلام وي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۂ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَ اِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَ يَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ وَ فِيْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿۴۹﴾ وَ اِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَاَنْجَيْنٰكُمْ وَ اَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۰﴾ (پاره: 1، سورۂ بقره: 50/49)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او (ياد کړئ) چې کله مونږه تاسو ته د فِرعَونيانو نه خلاصے درکړو چې تاسو ته به يې ډېر بد عذاب درکولو ستاسو ځامن به يې حلالول او لونډه به يې درله ژوندۍ پرېښودې او پۂ هغې کښې ستاسو د رب له طرفه لوئي ازمېښت وو- او ياد کړئ چې کله مونږه ستاسو د پاره درياب وشلولو نو مونږه تاسو بچ کړئ او فِرعَونيان مو ستاسو د سترګو د وړاندې غرق کړل-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د آيت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږه د وړومبۍ سيپارې، د سورۂ بقره د آيت: 49 او 50

د اورېدو سعادت حاصل کړو- د سورۂ بقره آيت: 40 نه د بني اِسرائيلو پۂ باره کښې خبرې شروع وې، مخکښې هم عرض شوي دي چې د وړومبۍ سيپارې تقريباً 11 رکوع د بني اِسرائيلو پۂ باره کښې دي، هغوئي ته پۂ تفصيل سره د نېکۍ دعوت ورکړے شو، د اِيمان قبلولو حکم ورکړے شو، د هغوئي د اِسلام پۂ باره کښې چې کوم کوم شکونه وو، د هغې پۂ تفصيل سره جواب ورکړے شو-

بني اِسرائيلو ته د اِيمان د دعوت ورکولو د پاره چې کوم مختلف اندازونه اِختيار کړے شول، پۂ هغې کښې يو دا دے چې پۂ هغوئي باندې او د هغوئي پۂ پلار نيکونو باندې چې کوم د الله پاک اِنعامونه شوي وو، هغه وريادِ کړے شول او وفرمائيلے شو چې د دې نِعمتونو شُکر ادا کړئ! او اِيمان قبول کړئ او د دُنيا او د اخرت کاميابي حاصله کړئ! د آيت: 49 نه د دغه اِنعامونو ذِکر شروع کيږي-

د ټولو نه وړومبے چې د کوم اِنعام ذِکر شوے دے، هغه د بني اِسرائيلو ازادي ده- د دې واقعه څۂ ده؟ راځئ چې وړومبے هٰغه واقعه واورو، بيا آيت مبارک اورو-

د بني اِسرائيلو د غُلامۍ او ازادۍ واقعه

د بني اِسرائيلو د پلار نيکۂ وطن پۂ شام کښې **کَنعَان** نومې علاقه وه، کله چې حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام مِصر ته تشريف يوړلو، هلته هغوئي د نبوت اِعلان اوکړو، مِصر والا يې د کُفر او شِرک نه منع کړل، هغوئي يې د الله پاک وَحْدَهٗ لَاشَرِيْك د عبادت طرف ته راوبلل، الله پاک حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام ته د عَزِيزِ مِصر (يعنې د مِصر د وزيرِ اعظم) څوکۍ ورعطا کړله، د هٰغه وخت بادشاه هم پۂ حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام باندې اِيمان راوړو او فرمانبرداره

شو، هٰغه وخت د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام والِد حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ، 11 وروڼه او د کور نورو خلقو مِصر ته تشريف يوړلو-

بني اِسرائيل د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام اولاد وو او د مِصر د وَزِيرِ اَعظم يعني د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام خاندان والا هم وو، ځکه ڇه مِصر کښې د بني اِسرائيلو ډېر عزت وو، د هغوئ مقام او مرتبه وه، خلقو به د هغوئ اِحترام کولو- اخر حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د دُنيا نه پرده وفرمائيله، وخت تېرېدو، د صدو تېرېدو نه پس د مِصر حکومت د يو ډېر مغروره او سرکشه ګس لاسونو ته لاړو، د هغۀ نوم وو: وَلِيد بِن مُصعَب او لقب يې وو: فِرعَون- دغه بد بخته د خُدايي دعوىٰ اوکړه او بني اِسرائيل يې خپل غلامان جوړ کړل- (1)

گدا کو بادشاہ یا بادشاہوں کو گدا کر دے
میرے مالِک تُو جب چاہے کسی کو کیا سے کیا کردے

دا هم د قُدرت يوه عجيبه نخښه وه، الله پاک چې چا ته وغواړي بادشاهي ورعطا کړي، چا له چې وغواړي د غلامي ڇه زنځيرونو کښې يې راګېر کړي-

وَ تُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَ تُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ؕ

(پاره:3، سورۂ آلِ عمران:26)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او تۀ چې چا له وغواړې عِزت ورکوې او چا له چې وغواړې ذِلت ورکوې-

[1]... تفسير نعيمي، پاره:1، البقرة، جلد:1، صفحه:328و370 خلاصةً-

کسی کو تاجِ وقار بخشے، کسی کو ذِلّت کے غار بخشے
جو سب کے ماتھے پہ مُہرِ قُدرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

بني اِسرائيلو د ډېرو کلونو پورې د فِرعَون پۀ غلامی کښې ژوند تېرولو- اخر د رَبِّ رحمان د هغوئ ازادي منظوره شوه او الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نبي جوړ کړو او راولېږلو- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې فِرعَون له د حق کوم دعوت ورکړو، پۀ بنيادي توګه د هٰغه دعوت دوه موضوع ګاڼي وې: (1):فِرعَون کوم چې د خُدايی دعویٰ کوي، دے دې د خپلې دې دعوې نه توبه کړي، بنده دے، بنده دې جوړ شي، د الله پاک وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ پۀ حُضُور کښې دې سر ټيټ کړي او د الله پاک فرمانبرداري دې شروع کړي (2): فِرعَون بني اِسرائيل نا حقه خپل غلامان جوړ کړي دي، هغوئ دې د غلامی نه ازاد کړي- پۀ قرآنِ کريم کښې دي، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل:

قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۱۰۵﴾

(پارہ: 9، سورۂ الاَعْراف:105)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه ما تاسو ټولو له ستاسو د رَبّ له طرفه ښځنه راوړې ده نو بني اِسرائيل زما سره پرېږده-

حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خپله دې دعویٰ باندې دليلونه ورکړل، معجزې يې وښودلې، فِرعَون او د هغۀ قوم يې پوهه کړو خو فِرعَون ضدي وو، هم ضدي پاتې شو، سرکشه وو، هم سرکشه پاتې شو، د هغۀ پۀ سَر کښې د طاقت نشه وه، د سلطنت، د تاج او تخت نشه وه، هٰغه بد بخته د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نافرماني اوکړه، د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ

السَّلَام په شان کښې يې ګستاخي اوکړې، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته او بني اِسرائيلو ته يې د تکليفونو رسولو ناپاک کوشش اوکړو، مَعَاذَاللہ! د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د شهيد کولو منصوبې يې جوړې کړې- کله چې فِرعَون د ټولو حدونو نه تېر شو، په خپل کُفر باندې بالکل کلک ودرېدو او د بني اِسرائيلو په ازادولو په هيڅ قِسمه طريقه تيار نۀ شو نو الله پاک فِرعَون د هغۀ د لښکر سره په درياب کښې غرق کړو او د همېشه همېشه د پاره د دوزخ خَشَاک جوړ شو- [1] داسې د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام په برکت د بني اِسرائيلو د ازادۍ نِعمت نصيب شو-

د آيت مبارک وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د کُفر د غلامۍ نه، د غېر مسلمو، ظالمانو د غلامۍ نه ازادي مېلاؤېدل د الله پاک ډېر لوئي نِعمت دے- د دې اِنعام په ذِکر کولو رَبِّ رحمان فرمائي:

وَاِذْ (پاره: 1، سورۂ بقره: 49)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او (ياد کړئ) چې کله-

يعني اے بني اسرائيلو! ياد کړئ...!! څۀ؟

نَجَّيْنٰكُمْ (پاره: 1، سورۂ بقره: 49)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: مونږه تاسو ته خلاصے درکړو-

د چا نه خلاصے؟

---

[1]... تفصيل کے لئے ديکھئے: پاره: 9، الاعراف، آيت: 104 تا 137۔

مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 49)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: د فِرعَونيانو نه-

يعني د فِرعَون او د هغۂ د قوم نه مو خلاصے درکړو- دې بد اَنجامه به څۀ کول؟

يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 49)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: چې تاسو ته به يې ډېر بد عذاب درکولو-

فِرعَونيانو پۂ بني اِسرائيلو باندې ډېرې سختې تيرولې ◈ د هغوئ ځيې خپل غلامان کړي وو ◈ د هغوئ زنانه د فِرعَونيانو د زنانۂ خادِمانې وې ◈ د هغوئ پۂ ځوانانو باندې به يې ډېر سخت کارونه کول ◈ پۂ غريبانو باندې ډېر تيکسونه مقرر وو ◈ اِسرائيلي بوډاګانو به خختې جوړولې، د فِرعَونيانو ودانۍ به يې جوړولې ◈ بوډۍ ګانو زنانۂ به د هغوئ د پاره تار ريښتلو او د هغې نه به يې کپړې جوړولې، غرض دا چې فِرعَونيانو به پۂ بني اِسرائيلو باندې ډېر ظُلمونه کول، [1] پۂ هغې کښې يو ظُلم دا وو چې

يُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَ يَسْتَحْيُوْنَ نِسَآءَكُمْ ؕ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 49)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: ستاسو ځامن به يې حلالول او لونۍ به يې درله ژوندۍ پرېښودې-

دا ډېر لوئي مصيبت وو ځکه چې د هلکانو د حلالولو پۂ وجه د بني اِسرائيلو نسل ته خطره وه، هسې هم د نارينۂ نه بغېر د زنانۂ ژوند ډېر ګران وي، د هغوئ عزت ته خطره

[1]... تفسیر نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:49، جلد:1، صفحہ:369 خلاصۃً۔

وي او فِرعَونيانو به واړۀ ماشومان حلالول، ځكه د دې سره به د هغوئي د مئېندو پۀ زړونو باندې هم چړې چلېدلې، سخت تكليف به ورسېدو- الله پاک فرمائي:

وَ فِیْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِیْمٌ ﴿۴۹﴾

(پاره: 1، سورۀ بقره: 49)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: او پۀ هغې كښې ستاسو د رب له طرفه لوئي ازمېښت وو-

يعنې اے بني اِسرائيلو! د فِرعَونيانو پۀ دې ظُلمونو كښې ستاسو ډېر لوئي اِمتحان وو، تاسو پۀ ډېرو سختو كښې راګېر وئ، بيا څۀ وشو؟ الله پاک د بني اِسرائيلو د خلاصي د پاره حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام راولېږلو، هغوئي فِرعَون له د اِيمان دعوت وركړو، فِرعَون وه نۀ منو، د ډېرو كلونو د نېكۍ د دعوت نه پس اخر حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ حُكم بني اِسرائيل د ځان سره كړل او د شپې د شپې د مِصر نه روان شو، فِرعَون چې كله خبر شو نو هغه هم د خپل 70 زره لښكر سره ورپسې شو، بيا ډېره سخته ورېښه شوه، مخې ته د درياب نيل وو، شا ته ورپسې د فِرعَون فوځ وو او پۀ مينځ كښې بني اِسرائيل وو، پۀ داسې سخت وخت كښې الله پاک حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته حُكم اوكړو چې اے موسىٰ! درياب پۀ خپله اَمسا ووهۀ! حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام چې كله پۀ خپله اَمسا باندې درياب ووهلو، سمدستي د درياب اوبۀ د دېوالونو پۀ شان ودرېدلې، پۀ هغې كښې دننه 12 لارې جوړې شوې، بني اِسرائيل پۀ هٰغه لارو پۀ ارام تېر شول، د فِرعَون فوځ هم ورپسې شا ته شا ته درياب ته داخِل شو، هلته بني اِسرائيل د درياب د بَلې غاړې نه بهر شول او دلته د فِرعَون فوځ درياب ته داخِل شو، هٰغه وخت د درياب اوبۀ بېرته يو ځائے شوې او فِرعَون د خپل

فوځ سره پۀ درياب کښې دننه غرق شو- [1] الله پاک فرمائي:

وَاِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَاَنْجَيْنٰكُمْ وَ اَغْرَقْنَاۤ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ﴿۵۰﴾

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 50)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او یاد کړئ چې کله مونږه ستاسو د پاره درياب وشلولو نو مونږه تاسو بچ کړئ او فِرعَونيان مو ستاسو د سترګو د وړاندې غرق کړل-

دا يو عظيم اِنعام وو کوم چې پۀ بني اِسرائيلو باندې اوکړے شو، هغوئي ته د فِرعَون د غلامی نه ازادي عطا کړے شوه-

پاکستان او د ازادی تحريک

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دا آيتونو چې مخې ته کيږدو مونږ لږ د ځان پۀ باره کښې غور اوکړو- چې اوس يو څو ورځې پس زمونږ د ازادی ورځ راتلونکې ده، پۀ 14 اګست کال 1947ء الله پاک مونږ ته خپل ازاد ملک راعطا کړو- پۀ دې خبره کښې هيڅ شک نشته چې د بني اِسرائيلو پۀ ازادی کښې او د پاکستان پۀ ازادی کښې د زمکې او د اسمان فرق دے، بني اِسرائيل د فِرعَون نه ازادوونکے د الله پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام وو او د پاکستان د ازادی د پاره کوشش کوونکے نبي نۀ وو بلکې د انبيائے کرامو عليهِمُ السَّلام غلامان او د اِمامُ الانبياء، محبوبِ خُدا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منونکي وو، يو غېر نبي هيڅکله هم د نبي برابر نشي کېدے، ځکه د بني اِسرائيلو پۀ ازادی کښې او د پاکستان پۀ ازادی کښې د زمکې او اسمان فرق دے خو د بني اِسرائيلو پۀ ازادی کښې، د ازادی

---

[1]... تفسير صراط الجنان، پارہ: 1، سورۂ بقرۃ، زيرِ آيت: 50، جلد: 1، صفحه: 123 خلاصةً-

نه پس د هغوئي پۀ کردار کښې زمونږ د پاره عِبرت او نصيحت دے، د دې نه مونږ ته معلومه شوه چې ◈ ازادي څۀ ته وئيلے شي؟ ◈ پۀ ازادۍ مبلاؤپدو څۀ کول پکار دي؟ ◈ د ازادۍ مبلاؤپدو نه پس د ژوند انداز څنګه پکار دے؟

لږ د پاکستان د ازادۍ تاريخ ته نظر اوکړئ! پۀ کال 1857ء کښې د ازادۍ د پاره وړومبے اجتماعي او منظم کوشش اوکړے شو، د دې ازادۍ د پاره د ټولو نه وړومبے چې چا غږ پورته کړو هغه وو: ډېر لوئي عاشقِ رسول، ماهر عالِمِ دِين **حضرت علامه فضل حق خيرآبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه**، د ازادۍ پۀ دې وړومبي کوشش کښې تقريباً 22 زره علمائے کرام شهيدان شول۔ [1]

پۀ دې هم د مسلمانانو حوصلې ماتې نۀ شوې، مسلمانانو مسلسل کوشش کولو، عاشقانِ رسول علمائے کرامو شپه او ورځ محنت کولو ◈ صَدرُ الاَفاضِل مولانا نعيم الدين مُرادآبادي ◈ مفتي احمد يار خان نعيمي ◈ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خليفه مولانا عبد العليم ميرټهي ◈ مولانا ديدار علي شاه ◈ محدثِ اعظم هند محمد کچهوچهوي ◈ محدث علي پوري ◈ ابو الحَسَنات سيد احمد قادري ◈ علامه عبد الغفور هزاروي ◈ علامه عبد الستار خان نيازي ◈ خواجه قمرُ الدين سيالوي ◈ پير جماعت علي شاه ◈ د مانۍکي شريف پير صاحب ◈ پير صاحب زکوړي شريف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم اَجمعين او د دوئي نه علاوه پۀ سوونو علمائے کرامو د اهلسنت مشائِخو د پاکستان د ازادۍ پۀ تحريک کښې

---

[1]... تحریکِ آزادی 1857ء میں علماکا مجاہدانہ کردار، صفحہ: 27 و 29 ملتقطاً۔

ښه پوره برخه واخسته [1] د بَرِّ صغیر پۀ کوټ کوټ کښې تقریرونه شروع شول، نظمونه شروع شول، د مسلمانانو پۀ زړونو کښې د پاکستان سره محبت واچولے شو بلکې د اهلسنت د علماؤ پۀ باره کښې خو پۀ کتابونو کښې د دې پورې هم لیکلے شوي دي چې پۀ کال 1946ء کښې چې کله تحریکِ پاکستان پۀ خپلو اخري مرحلو کښې وو، هٰغه وخت علمائے کرام کور کور ته لاړل او هلته یې هم دعوتونه ورکړل او پۀ مسلمانانو کښې یې د یو ازاد اِسلامي ملک محبت رابېدار کړو۔ [2]

اخر د بزرګانو دعاګاني قبولې شوې، د عالمانو او مشائخو، عوامو او د مسلمانانو مشرانو کوششونو رنګ راوړو او پۀ 14 اګست کال 1947ء د رَمَضَانُ المُبَارَک 27 شپه وه، پۀ داسې مبارکو ساعتونو کښې د شپې 12 بجې اِعلان وشو: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مسلمانانو بېل اِسلامي ملک پاکستان جوړ شوے دے۔

کبریا کا لُطف تھا اور رحمتِ شاہِ زمَن | ہم کو سینتالیس میں حاصِل ہوا اپنا وَطن
ہم پہ جِدّ و جُہدِ آزادی میں تھے سایہ فگن | اَولیائے اُمَّتِ اَحْمَد، صحابہ، پنج تَن
اہلسنت و الجماعت کی مقاصِد سے لگن | رَنگ کیسے لے نہ آتی، کیوں نہ مِل جاتا وطن
سینکڑوں پیروں، ہزاروں عالموں کی دوڑ دھوپ | تھی نتیجہ خیز، ہم نے لے لیا اپنا وطن

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحہ: 211 تا 212 خلاصۃً۔

[2]... تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحہ: 239 خلاصۃً۔

پاکستان د اللہ پاک ډېر لوئي نِعمت دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! ◈ لکه څنګه چې بني اِسرائيلو ته د فِرعَون نه ازادي مېلاؤېدل يو ډېر لوئي نِعمت وو، دغه شان مونږ ته د غېر مسلمو حکومتونو نه خلاصے مېلاؤېدل هم د رَبِّ کريم ډېر لوئي اِنعام دے ◈ لکه څنګه چې بني اِسرائيل اِيمان والا وو، د فِرعَون پۀ حکومت کښې اوسېدل، دغه شان د مُغلو سلطنت د زوال نه پس پۀ بر صغير باندې د غېر مسلمو حکومت راغلو، مسلمانان د هغوئي پۀ حکومت کښې راغلل، بيا مسلمانانو ته د هغوئي د جوړ کړے شوو قوانينو مطابق ژوند کول وو، ظاهره ده چې غېر مسلمه کوم قانون جوړوي هغه خو به د قرآن او د سُنَّت مطابق نۀ وي ◈ دې وجې نه مسلمانانو ته پۀ قرآنِ کريم باندې ◈ پۀ سُنَّتو باندې ◈ د خپل دِين پۀ تعليماتو باندې پۀ ازادۍ سره عمل کول ګران وو، حکومت چې به کله غوښتل، پۀ کومه دِيني مسئله کښې غوښتل خندان [يعني رکاوټونه] به يې راپورته کول ◈ پۀ نـمونځ کولو کښې مشکلات وو ◈ پۀ روژو نيولو کښې مشکلات وو ◈ پۀ قربانۍ کولو کښې مشکلات وو ◈ مسلمانان پۀ قرضونو کښې راګېرېدل ◈ اخر لکه څنګه چې پۀ بني اِسرائيلو باندې کرم وشو، هغوئي ته د ازادۍ نِعمت ورکړے شو، هم داسې رَبِّ رحمان د خپل محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله مونږ ته هم د ازادۍ نِعمت او ازاد ملک راعطا کړو۔

د زادۍ نه پس د بني اِسرائيلو حالات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اللہ پاک بني اِسرائيلو ته د فِرعَون نه، د ظُلم زور نه ازادي ورعطا کړه، بيا هغوئي له پکار وو چې هغوئي د اللہ پاک د دې نِعمت شُکر

ادا کولے، د الله پاک پۀ حُضُور کښې تيت شوے وے، د الله پاک فرمانبرداري يې کولے، د الله پاک حکمونه يې پۀ سر سترګو منلے خو بني اِسرائيلو نا شُکري اوکړه۔

◈ کله چې فِرعَون غرق شو، بني اِسرائيلو هغه پۀ غرقېدو پۀ خپلو سترګو ليدلے وو خو دلته هم چې لږ وړاندې لاړل، وه يې کتل چې يو قوم دے کوم چې د دروغژنو خُدايانو پۀ عبادت کښې مصروف دے، شِرک کوي، دا يې چې وليدل نو بني اِسرائيلو ووئيل:

يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَاۤ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ (پارہ: 9، سورۂ الاعراف: 138)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: اے موسیٰ! زمونږ د پاره هُم يو داسې معبود جوړ کړه څنګه چې د دوئ د پاره دِير معبودان دي۔

اَللّٰهُ اَكْبَر! اوس يې د يو کافِر انجام وليدلو او جرأت ته يې وګورئ چې د الله پاک د نبي، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام نه د شِرک اِجازت غواړي۔

◈ الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام له د تورات شريف ورکولو د پاره کوهِ طُور ته وبللو، حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام 40 ورځې پۀ کوهِ طُور کښې تشريف فرما وو، وروستو پسې بني اِسرائيل بے لارې شول، سامري نومې يو جادوګر د هغوئ د پاره د دهات يو سخے جوړ کړو، بني اِسرائيلو هم هٰغه سخے خُدائے ومنلو۔ [1]

◈ بني اِسرائيلو ته تورات شريف عطا کړے شو، هغوئ پۀ هغې باندې د عمل کولو نه

[1]... تفصيل کے لئے ديکھئے: پارہ: 16، سورۂ طٰہٰ، آيت: 77 تا 87۔

صفا اِنكار اوكړو، الله پاک كوهِ طُور د بيخ نه را اوچت كړو او د هغوئي پۀ سرونو باندې يې رازورِند كړو او وه يې فرمائيل:

خُذُوْا مَاۤ اٰتَیْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّ اذْكُرُوْا مَا فِیْهِ

(پاره: 1، سورۀ بقره: 63)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: مضبوط ونيسئ هٰغه (كتاب) كوم چې مونږه تاسو ته دركړے دے او څۀ چې پۀ هغې كښې بيان كړے شوي دي هغه ياد كړئ۔

هٰغه وخت د دې وِيرې نه چې كوهِ طُور د هغوئي پۀ سرونو باندې را وه نۀ غورځولے شي، هغوئي پۀ تورات شريف باندې د عمل كولو وعده اوكړه خو بيا د خپلې وعدې نه پۀ شا شول۔ [1]

غرض دا چې ازادي كوم چې يو لوئي نِعمت وو، بني اِسرائيلو له پكار وو چې د هغې شُكر يې ادا كړے وے خو هغوئي نافرماني اوكړه، د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام نافرماني يې اوكړه، د الله پاک پۀ كتاب تورات شريف باندې يې د عمل كولو نه اِنكار اوكړو، اخر پۀ هغوئي باندې د الله پاک غضب نازل شو او پۀ هغوئي باندې ذِلت مسلط كړے شو، الله پاک اِرشاد فرمائي:

ضُرِبَتْ عَلَیْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ ۗ وَ بَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ

(پاره: 1، سورۀ البقرة: 61)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: پۀ هغوئي خواري او نېستي مسلط كړے شوه او هغوئي د الله د غضب حقدار شول۔

[1]... تفصيل كے لئے ديكهئے: پاره: 1، البقرة، آيت: 63 تا 64۔

پۀ بني اِسرائيلو باندې دا ذِلت ولې مسلط کړے شو، پۀ هغوئي باندې د الله پاک غضب ولې نازل شو، د دې وجه هم الله پاک ورسره بيان کړه، اِرشاد دے:

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۶۱﴾

(پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 61)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: دا پۀ دې وجه وو چې هغوئي نافرماني اوکړه او هغوئي پرله پسې سرکشي کوله-

جو کچھ ہیں وہ سب اپنے ہی ہاتھوں کے ہیں کرتوت
شکوہ ہے زمانے کا نہ قسمت سے گلہ ہے
دیکھے ہیں یہ دِن اپنی ہی غفلت کی بدولت
سچ ہے کہ بُرے کام کا انجام برا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

مونږ او زمونږه حالات

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! چې د بني اِسرائيلو دا منفي کردار مخې ته کيږدو او مونږ لږ د خپلو حالاتو جائزه هم واخلو- الله پاک مونږ ته ازاد ملک راعطا کړو، يقيناً چې پاکستان د رَبِّ ذِيشان ډېر لوئي اِحسان دے خو مونږ دې خپله جائزه واخلو چې مونږ د دې نِعمت څومره قدر کوو- زمونږه علمائے کرامو چې د پاکستان د پاره کومې قربانۍ

ورکړي، تقريباً 30 لاکهه کسان شهيدان شول، [1] دا قربانۍ دې د پاره وې چې مونږ اِسلامي تهذيب او کلتور (*Culture*) پۀ ازادۍ سره اِختيار کړے شو، پۀ قرآنِ کريم، حديث شريف او اِسلامي تعليماتو باندې پۀ ازدۍ سره عمل اوکړے شو ◈ آيا مونږ پۀ هغې باندې پوره يو؟ ◈ آيا زمونږ چلن، زمونږه رواج، زمونږه د ژوند طرز اِسلامي دے؟ ◈ پاکستان پۀ ازادۍ سره د نـمونځونو کولو د پاره جوړ کړے شوے، آيا مونږ نـمونځونه کوو؟ ◈ پاکستان پۀ ازادۍ سره د روژو نيولو د پاره جوړ کړے شوے، آيا مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې نيسو؟ ◈ پاکستان پۀ ازادۍ سره د تِلاوت کولو، پۀ ازادۍ سره پۀ قرآني تعليماتو باندې د عمل کولو، پۀ ازادۍ سره د سُنَّتو اِختيارولو د پاره جوړ کړے شوے ◈ دې د پاره جوړ کړے شوے چې مونږه ږېرې پرېږدو نو څوک پۀ مونږ باندې اِعتراض اونکړي ◈ مونږ چې د سُنَّت مطابق جامې واغوندو نو څوک پۀ مونږ ګوتې اوچتې نۀ کړي ◈ مونږه نـمونځونه کوو، عمامه پۀ سر کوو، پۀ لاس کښې تسبيح راخلو نو چې څوک پۀ مونږ پورې وه نۀ خاندي ◈ زمونږه مټندې خوټندې شرعي پرده اوکړي، پۀ څادر او انګړ کښې وي نو چې څوک پرې ګوتې پورته نۀ کړي، څوک ورپسې وه نۀ خاندي- پۀ اِنصاف سره ووايئ! آيا مونږ دا هر څۀ کوو؟ ◈ آيا زمونږ پۀ مخ باندې د سُنَّت مطابق يو موټے ږېره مبارکه شته؟ ◈ آيا مونږ د سُنَّت مطابق جامې اغوندو؟ ◈ آيا مونږ د اِسلامي تهذيب او کلتور نمونه جوړ شوي يو؟ ◈ آيا زمونږه مټندې، خوټندې، لونه د شريعت مطابق پرده کوي؟

---

[1]... تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسُنّت کا کردار، صفحہ:150۔ جمعیت اشاعت اہل سنت

او کله چې يو عاشقِ رسول د ژوند اِسلامي طرز اِختياروي نو آيا پۀ معاشره (Society) کښې هغۀ ته د عزت پۀ نظر کتلے کيږي؟ يا پۀ هغه پورې ټوقې ملنډې کولے شي؟

جشنِ ازادي او د جهالت حرکتونه

آه! افسوس---!! نن 79 کاله کېدونکي دي خو پۀ اجتماعي توګه که مونږ اوګورو نو مونږ د پاکستان مقصدونه پوره نۀ کړل، د ازادۍ ورځ پۀ اصل کښې د شُکر ورځ ده، د الله پاک پۀ حُضُور کښې د عاجزۍ سره د سجدې کولو او د هغې د شُکر ادا کولو ورځ ده خو زمونږه پۀ معاشره کښې د ازادۍ ورځ هم د ګناهونو نه پۀ ډک انداز کښې نمانځلے کيږي ◈ بے هوده ګډاګاني کيږي ◈ چغې سورې وهلے کيږي ◈ پټاخې خلاصولے شي ◈ د بے هودګۍ سره باجے غږولے شي ◈ هلکان پۀ کوڅو کښې او پۀ سړکونو باندې درز غوبل کوي ◈ پۀ سړکونو باندې ون ويلنګ (One Welling) کوي او د مرګ سره لوبې کوي ◈ ډېر نادانه کوم چې د خپل مور پلار د بوډا والي يواځنۍ اَسره وي، د دې وَن ويلنګ پۀ نشه کښې مست شي او مړه شي ◈ شرابونه څښلے کيږي ◈ نشه ور خيزونو ښه د زړۀ د اِخلاصه استعمالولے شي۔

آه! افسوس---!! آيا مونږ ته پاکستان دې د پاره مېلاؤ شوے وو؟ آيا مونږ ته دا نِعمت دې د پاره را عطا کړے شوے وو؟

وَائے ناکامی مَتاعِ کارواں جاتا رہا | کارواں کے دِل سے اِحساسِ زِیاں جاتا رہا[1]

---

[1]...کلیاتِ اقبال، بانگِ درا، صفحہ:214۔

وضاحت: آه! زمونږه ساز او سامان (مثلاً عزت، ترقي، کاميابي، عروج وغيره) تباه کيږي او بربادیږي او مصيبت خو دا دے چې زمونږ د نادانو سره د دې تباهیِ احساس هم قدرې نشته-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! بني اِسرائيلو ته ازادي عطا کړے شوه، هغوئي د هٰغه ازادیِ قدر اونکړو، د هغې شُکر يې ادا نۀ کړو، د الله پاک پۀ نافرمانیِ کلک ولاړ وو، پۀ هغوئي باندې ذِلت مسلط کړے شو، هسې نۀ چې مونږه هم نا شُکري اوکړو، د ازادیِ د دې نِعمت قدر اونکړو نو پۀ مونږ باندې هم ذلت مسلط کړے شي- ځکه مونږ له اِحتياط کول پکار دي-

ببړیِ تباهیِ ته نزدې شوې ده

ډاکټر اِقبال وئيلي وو:

میں تجھ کو بتاتا ہوں تاریخِ اُمَم کیا ہے | شمشیر و سِناں اَوّل، طاؤس و رُباب آخر(1)

وضاحت: **مطلب دا دے** چې قامونه وړومبے خوبونه ويني، د ترقیِ، بام ته د ختلو او د کاميابیِ د پاره جزبې ښکاره کوي، جوش وي، د اوچت والي او عروج د پاره شپه ورځ محنت وي، بيا الله پاک هغوئي ته د محنت بدله ورعطا کوي، هغوئي ته ترقي عطا کيږي، د دې پورې چې قومونه پۀ اوچت والي او عروج کښې د ستورو پورې ورسيږي، بيا يو وخت راځي چې خلق د الله پاک نِعمتونه هېر کړي، غرور او تکبر د هغوئي سر ته وخيژي، پۀ

---

[1]... کلیاتِ اقبال، بالِ جبریل، صفحہ:382۔

ګناهونو، نافرمانۍ، عياشۍ، فضولياتو کښې د حده تېر شي، بيا پۀ هغوئي باندې د الله پاک غضب نازل شي او د زوال ژورې کندې ته اوغورځولے شي- د قومونو هم دغه تاريخ دے-

یاخدا! پاک وطن کی تُو حفاظت فرما	فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما
اس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یاربّ!	میرے پیارے وطنِ پاک پہ رحمت فرما
ہائے! بدمست گناہوں میں ہوئے اہلِ وطن	یاخدا! سب کو عطا نیک ہدایت فرما
بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا	اور عطا جذبۂ پابندیِ سُنّت فرما
شکر صَد شکر غلامی سے ملی آزادی	پھر عنایت ہمیں کھوئی ہوئی شوکت فرما[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د ازادي جِشن څنګه نمانځل پکار دي ؟

نن د ازادۍ ورځ ده، دا هٰغه ورځ ده پۀ کومه ورځ چې مسلمانانو د ازادۍ حاصلولو د پاره د خپلو سرونو نذرانې پيش کړې وې، د يوې اندازې مطابق کله چې پاکستان جوړ شو نو هٰغه وخت 30 لاکهه مسلمانان شهيدان شوي وو- [2]

شہید تم سے یہ کہہ رہے ہیں، لہو ہمارا بُھلا نہ دینا	
قسم ہے تم کو اے سرفروشو! لہو ہمارا بُھلا نہ دینا	

---

[1]... وسائلِ فردوس، صفحہ:12 و 13 ملتقطاً۔

[2]... تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسُنّت کا کردار، صفحہ:150۔ جمعیت اشاعت اہل سنت

وُضُو ہم اپنے لہو میں کر کے خُدا کے ہاں سُرخرُو ہیں ٹھہرے
ہم عہد اپنا نباہ چلے ہیں، تم عہد اپنا بُھلا نہ دینا

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا ورځ د هٰغه شهيدانو د برسۍ [کليزې] ورځ ده، د برسۍ[کليزې] په ورځ سندرې نۀ غږولے کيږي، د قرآنِ کريم په تِلاوت کولو، د روژې په نيولو، د فاتحه خوانۍ په کولو خپلو شهيدانو ته، وفات شوو ته ثواب بخښلے کيږي- ښه ډېر عبادت اوکړئ، د شکرانې نفلونه اوکړئ او د پاکستان د پاره د شهادت مرتبې ترلاسه کوونکو عاشقانِ رسول ته يې ثواب اوبخښئ-

الله پاک دې زمونږ د ټولو هدايت نصيب کړي، د شېطان د غلامۍ نه، د نفس د غلامۍ نه دې نجات راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یاخُدا! پاک وطن کی تُو حِفاظت فرما	فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما
اس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یارَبّ!	مرے پیارے وَطنِ پاک پہ رحمت فرما
آج ہے امن وطن کا مرے پارہ پارہ	پھر مہیا مرے مولیٰ! اسے راحت فرما
ہائے بدمست گناہوں میں ہوئے اہلِ وطن	یاخُدا! سب کو عطا نیک ہدایت فرما
بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا	اور عطا جذبۂ پابندیٔ سُنت فرما[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... وسائلِ فردوس، صفحه:12و13 ملتقطاً-

پۀ مَدَني قافله کښې سفر اوکړئ!

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم **دعوتِ اسلامي** هم جشن ازادي نمانځي خو د دعوتِ اسلامي انداز جدا دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! ◈ د جشن ازادی پۀ موقع مدني قافلې سفر کوي، پۀ زرګونو عاشقانِ رسول پۀ مدني قافلو کښې د سفر کوي ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ګرځي او د دِين ◈ قُرآن او سُنَّت تبليغ کوي ◈ پخپله هم نـمونځونه کوي ◈ نورو له هم د نـمونځونو دعوت ورکوي او جوماتونو ته يـې د راوستو کوشش کوي ◈ د عشقِ رسول شمعې پۀ زړونو کښې د روښانه کولو کوشش کيږي ◈ داسې عاشقانِ رسول د دِين پۀ زده کولو، نورو ته پۀ ښودلو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حقيقي غلامانو جوړېدو کوشش کوي او نور هم د دې لارې مسافر جوړوي۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو هم ذِهن جوړ کړئ، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حقيقي غلامانو جوړېدو د پاره، د ازادی د تحريک د شهيدانو د اِيصالِ ثواب د پاره د عاشقانِ رسول سره پۀ قافلو کښې سفر اوکړئ او د ازادی د نِعمت شُکر ادا کړئ۔ الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

فيضانِ حديث موبائل ايپلي کښې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډېر فائده مند موبائل ايپلي کښې پۀ نوم د **"فيضانِ حديث"** پۀ ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے۔ پۀ دې ايپلي کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ◈ **مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح** او د دې اسانه اُردو شرح **مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح** ◈ **الأربَعِيْنِ النّوويَّة** د اُردو ترجمې او شرحې ◈ **رِياضُ الصَّالِحِين** د اُردو ترجمې او شرحې

سره ◈ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه(اردو) ◈ او مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ◈ د دې اپيلي کښش پۀ مدد سره تاسو حديثونه مبارک پۀ کتابي شکل کښې (يعنې د جلدونو پۀ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پۀ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ◈ د سرچ آپشن [يعنې د لټولو آپشن] پۀ مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- ◈ پۀ دې کښې د حديثِ پاک د عربی متن د اعراب سره او د اعراب نه بغير، پۀ دواړه قِسم د کتلو سهولت کښودے شوے دے ◈ د مطالعې د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ◈ د مختلف فاؤنټس ***Fonts***او د حديثونو د شېئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن پۀ خپل موبائل کښې دا اپيلي کښش ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: د تصوير والا کپړې اغوستل جائز نۀ دي، ګناه ده-

وضاحت: عام طور دا ليدلے شوي دي چې خلق پخپله او خپلو بچو ته هم د تصوير والا شرټونه اغوندي- ياد ساتئ چې پۀ جامو باندې د ساه لرونکي تصوير جوړ وي او دومره غټ وي چې پۀ زمکه کښودے شي او پۀ ولاړه ولاړه پۀ کتو اندامونه واضحه پۀ نظر راځي نو د داسې تصوير والا جامې اغوستل جائزې نۀ دي- **اعلیٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **ليکلي**

دي: د يو ساه لرونکي تصوير پۀ کوم کښې چې د هغۀ مخ موجود وي او دومره غټ (يعنې واضحه) وي چې پۀ زمکه باندې کېښودے شي او پۀ ولاړه ورته وکورې نو د اندامونو تفصيل ظاهريږي، داسې قِسمه تصوير چې پۀ کومه کېړه باندې وي د هغې پخپله اغوستل، بل ته اغوستل يا خرڅول ټول جائز نۀ دي او د دې پۀ اغوستو نـمونځ مکروهِ تحريمي دے يعنې د داسې نـمونځ بيا راکړځول واجِب دي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنىٰ برکتونه (وظيفه)

يَا مُؤَخِّرُ (اے وروستو کوونکيه مثلاً دښمنان سپکوونکے)

چې کوم ګس د يو نـمونځ نه پس هم يَا مُؤَخِّرُ 100 کرته لولي اِنْ شَآءَ اللّٰه الْکَرِيْم! د هغۀ زړۀ به د الله پاک پۀ محبت او ياد کښې اوسي۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... فتاوٰی رضويه، جلد:24، صفحه:567۔

[2]... مَدَنی پنج سوره، صفحه:259۔